**لیکونکی** : پروفیسور ماجوری کوهن (Prof .Marjorie Cohn)
**منبع اود خپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «05-03-2020».
**ژباړونکی**: پوهندوی دوکتور سید حسام «مل» .
------[31]---------------------------------------------------

# ترامپ دا فغانستان معاملی دتلپاتي سولی په اړه ددرغلیو حقونوته لمړیتوب ورکوي

*Trump's Afghanistan Deal Prioritizes Bragging Rights Over Lasting Peace*



دا ریښتیا ده چې د **ټرمپ** اداري له طالبانو سره "د سولې تړون" لاسلیک کړ - دا هغه څه چې دواړه **جورج ډبلیو بوش** او **بارک اوباما** له هغه څخه ډډه کړل - مګر ددی تړون نږدې کتنه دا په ګوته کوي چې تړون د یولړشرایطو له خنډونوڅخه ډک دی چې هغه خنډونه یی څنډی ته پریښودل شوی.

د معا ملې یا ددی تړون شرایط وړاندیز کوي چې **ټرمپ** په دې ویاړ کې ډیر لیوالتیا لري چې هغه د کمپا ین ژمنې سرته رسوي چې سرتیري به بیرته کور ته راولي د هغه په پرتله چې په ا فغا نستا ن کې ریښتینې سولې ته ژمن دي. دا حقیقت د **ټرمپ** د ملي امنیت پخوا نیو همکارانو لخوا هم یاد ونه شوې ، ځینو یې ویلي چې ولسمشر "د یوې ریښتینې افغا ن سولې سره ډیره لیوا لتیا نه لري" د دې ادعا په پرتله چې هغه د متحده ایالاتو د ځواکونو ایستل په

خپله ژمنې کې ښه کا ردی یا ښه کاربولي .
په «نولسم» دفبروری کي د «کالفرنیا» استا ذي اودامریکي په کنګرس کی جمهوریخواه سناتورآغلي **با ر با را لي** (Barbara Lee) پخپل یوخبری اعلامیه کي په ډیرشد ید ا لفا ظو سره بیا ن کړ : دغه تړون ته نه باید د(سولي) ریښتینی تړون یا « دسولي توافقنامه» وویل شي ، که څه هم (تړون) یوګام مخکي دي **. لی** یادونه وکړه : «د دی تړون دمند رجا تو په نظرکي نیولو سره په ا فغا نستا ن کي زرګونو امریکا یی سرتیرو ته د پا تی کید و اجازه ورکړي دي اوهم دافغان تولني د بیا رغوني لپا ره یا د سولی را مینځته کیدو ته ، بشری متمرکز پراختیا یا د حکومتداری ریفورمونو پلی کولو ته مهم یا لازمی پا نګوني په نظر کي نه دي نیول شوي» .
د ا فغا نستا ن دښځو فعا لین هریوه **ماری اکرمي** ، **زهرا حلیمی** ، او **راحله صد یقی** نن پرامریکا با ندی چی د دی توافقنا می په روند کي پوره ونډه لري نیوکي وکړل چی ددی سولی په روند کي با ید چی دا فغا نستا ن د ښځو ، د مد نی تولني اود نورو لړکیو ډ لو استا ذ و ته با ید د متحده ایالاتو اود طا لبا نو دخبرواترو میز ته رابلنه ورکړ شوای وای چي په مذاکره کي ونډه اخیستی وا یی مګر مونږ هلته نه وو اویا مونږ ته چا بلنه رانکړ .
دغه «توافقنامه» دافغانستان لپاره دسولی درامینځته کیدو ، لپاره طرحي وړاندی شوی یا چي په نظرکی نیول شوی چي هغه له افغانستان څخه دټولو خارجي سرتیرو وتل ، له دواړه اړخه څخه دبندیانو خوشي کول ، دافغانستان له خاوری څخه پرامریکي اودهغه پر متحدینو باندي دهر ډول حملی اوتجاوز بندول یا مخنیوی کول دطا لبا نو اودافغان دولت سره ( بین الافغا نی خبری اتري ) شا مل دي ګرچه دا سي ادعا کیږی چي دغه یو کامل اودسولی یوه جامع «تړون» دي اما سنا تور (لی) داسی په ګوته کوي چی **[ دا تړون به هرشي وی اما پرته د سولی له تړون څخه ؟ ]**

# دټولو بهرنيي ځواکونو لپا ره دوتلو مها ل ویش

دغه تړون له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو دوتلو لپاره مها ویش ټا کي . په تړون کی یا ده شوی چي متحده ایالات ژمن دي چي له ا فغا نستا ن څخه د متحده ایالاتو اودهغه هیواد دمتحدینو یا دخپل ایتلاف دشریکانو سرتیری یا نظامی ځواکونه په شمول د ټولو غیر د یپلما تیک ملکي کارمند ا نو ، خصوصی ا منیتی قرارداد یا نو ، روزونکو مشاورینو او خدماتی پرسونل وروسته د تړون له لاس لیک اواعلان څخه په تتد ریجي بڼی د ( 14) میا شتو په موده کي بی له کوم ځنډ خا رجوی .
لمړي په (135) ورځو کي ،متحده ایالات اودهغه متحد ین یا دایتلاف شریکا ن به دخپل

ځواکونو شمیر (8600) سرتیرو ته را ټیټ کړي او ټول ځواکونه به له پنځو نظامی اډی چي په ا فغا نستا ن کي دامریکي لخوا جوړ شوی دي با سی .– نورپا تي (8600) ځواکونه [ یعنی همدغه شمیرسرتیری چی د بارک«اوباما» دزمامداری دوري په ختم کي وجودلرل ] چي په هغه کي دځا نګړي عملیا تونو اود اطلاعا تو افسران ، اوامنیتی کمکي پرسونل دي - کوم چي پنتاګون او (سی آی ای) په دی نظر دی چی دغه شمیر ځواکونه ضرور دي چي په هیواد کی دکا بل د امنیت د سا تني لپاره اوهم د داعش ، القاعده سره په جګړه کي پخپل ځای کي پا تي شی داهغه څه دي چي **داوید سنجر**(David Sanger) په نیو یارک ټا یمز ورځپانه کي په نشر رسولي دي.

متحده ایالات اودهغه متحدین به دپاتي (نهو ) میاشتو په پای کي له افغانستان څخه ټول باقیمانده ځواکونه « وبا سی ».

مګر(**دا وید سنجر**)دهوکړي له مخي « دپټو تړاوونو یوه لړي» راپورونه په ګوته کوي چي دامریکی دمتحده ایالاتوځانګړي عملیا تی ځواکونواود(سی آی ای) اطلاعاتی مسولینوته په هیواد کي د پا تي کید و اجازه ورکړ شوی دي .

## د طا لبا نو اود ا فغا ن د حکومت تر مینځ خبری ا تري

طا لبا نو به د ما رچ په (لسمه ) کا ل (2020) کي د ا فغا نی اړخ سره بین الافغا نی مذاکرات پیل کړي .

خو وروسته له هغه چي دا فغا ن اولسمشر ( **محمد اشرف «غنی»** ) اود **عبد الله عبدالله** ترمینځ د انتخا با تو په سیا لی او ټاکني کي اختلاف پیدا شوه نو له همدی وجهی څخه اوس طا لبا ن نه پوهیږي چي د چا سره خبرو ته کینینی ګرچي چی د فبروري په (اتلسمه نیټه ) کي د ا فغا نستا ن د ټا کنو خپلواک کمیسیون **اشرف (غني)** دانتخاباتو کټونکي اعلام وکړ خو **عبد الله عبدالله** د کمیسون پا یلي ونه منل او ګواښ وکړچي په افغا نستا ن کی به موازی حکومت اعلان کړي .

دغه تړون چي له (7) ورځو « تا وتریخوا لي » د کمولو څخه اعلان شوی د «دایمي اودهراړخیز اوربند » په اړه خبرواترو ته اړتیا لیدل کیږي اما په عین وخت کي قتل عام دوام لری یعنی چی بی ګناه ا فغا نا ن د دي اختلافا تو په تنور کي سوځي .

**د سپټا مبر د یولسمی کا لیزي دلما نځنی په درشل کي د ا فغا نستان جنګ ته د پای ورکوني را بلنه مشاهده کړي**

## د دواړو خواو څخه د بند یا نو خوشي کول:

دامریکي متحده ایالات ژمني کوی چی دمارچ په (لسمه) نیټه د جنګي اوسیا سی بند یا نو

دڑر تر ژره خوشی کولو په پلان باندي کار وکړي . یعنی چي دا فغا نستا ن دولت به د طا لبا نو (5000) بند یا ن اوطا لبا ن به د دولت (1000) تنه بند یا ن له خپلو زندانونو څخه به خوشي کړي .د (اړوند خواوو) هد ف کوم چي د متحده ایالاتو په مرسته سره حالات مساعد او یا آسا نه کړ شوي دي په راتلونکو دري میا شتو کي به « ټول پا تي بند یا ن» له زندانونو څخه خوشي کول دي .

اما له دي امله چي افغا ن لوري (حکومت) د تړون د مخه په مذاکراتو کی ونډه نه لرل نو د بند یا نو د خوشی کیدو سره موافق نه وه . نو**محمد اشرف «غني»** د مارچ په لمړي نیټه کي په ښکا ره ډول سره وویل :هغه د مارچ (31) نیټی یعنی د بین الافغانی مذاکراتو پیل پوري د طا لبا نوبند یا نودخوشی کولو نیت نه لري. اما طا لبا نو ګواښ کړي چي که چیری دهغوی بند یا ن په ټا کلی موده کي چی وړاند وینه شوی له بنده څخه خوشي نه کړي نو بین الافغانی مذاکراتو ته نه کیښیني !

د تړون په محتویا تو کي په دي موضوع با ندي هم ټینګا ر شوی کوم چي طا لبا نو منلی دي چي له ا فغا ن خا وري څخه د متحده ایالاتو پر وړاندي د بریدونو مخه ونیسی .

دهوکړی له مخی « طا لبا نو» خپلو غړو ، نورو افرادو یا ډلو ته دا لقاعدی پشمول اجازه ورنکړي چي دا فغا نستا ن خاوره دامریکي اودهغه د متحد ینو په وړاندی وکاروی یا له دی ځا یه څخه ا مریکي وګواښوی. طا لبا نو همدارنګه خپل غړو ته لارښونه کوي چي د هغو افرادو ، ډلو ټیلو سره همکا ری ونکړي چي د متحده ایالاتو اودهغی د متحد ینو امنیت وګواښوي .

سربیره پردي طا لبا ن به په افغا نستا ن کي دهر ډ لي یا فرد څخه مخنیوی کوي چي که د متحده ایالاتو اودهغه متحد ین د تهد ید سره مخا مخ کړي یا هغو ته روزنه ورکړي اویا هغوسره ما لی مرستی وکړی یا یی دحملی لپا ره وګما روی .

طا لبا نوداهم منی چي هغه بند یا ن کوم چي خوشی کیږی د متحده ایالاتواو هغه د متحد ینو امنیت ته کوم ګواښ نه پیښوي ، سربیره پر دي طا لبا نو دمهاجرت یا دګډوالي نړیوال قانون سره موافقت کوي ترڅو هغه خلک چي ورته پنا ه ورکړ شوي یا پناه ورکول کیږي دمتحده ایالاتو اودهغه دایتلاف ملګرو ته ګواښ پیښوی ، پا سپورتونه ، ویزي د سفر جوازنا مي یا نور قا نونی اسنا د ا فغا نستا ن ته د ننوتو لپا ره دی نه صا دروی .

خو د اموضوع بلکل روښا نه نه ده چي آ یا طا لبا ن ددی وړتیا لری ؟ چي دافغا نستا ن له خا وری څخه د ترهګرو ډلو د برید ونو مخه ونیسي ؟ دطالبانو دقطر ددفتر ویندوی (سهیل شاهین) واشنګټن پوست ته وویل : مونږ به چا ته اجازه ورنکړو چي زمونږ ځمکه دمتحده ایالاتو په شمول دهیڅ کوم بل هیواد پر ضد وکا روی .

واقیعت او حقیقت خو دادي لکه څنګه چي د **دوګلاس لندن دجورج تا ون** ( Douglas London, Georgetown ) پوهنتون اړونده پروفیسوراود(سی آی ای ) پخواني لوړ پوړی افسر نیویارک تایم ورځپا نې ته د خپرید ولو لپا ره لیکي داسی یاده کړي دي : **[ طا لبا ن ډلی ډلی ،غیر متمرکز او مختلف څانګی یا جناحونه دی ، چی دهغو په مورد کي د ا شک راپید ا کیږی چي آ یا دوی د دی تړون مواد یا محتویات کولي شی چي پلی کړی اویا هغه ته دعمل جا مه ور واغوندي یا څنګه ؟ اما د تا ریخي نظر له مخي طا لبا ن دسیمه ایزو جنګسالارانو له خوا کترول شوی یا روزل شوی ډلی ټپلی دی چي کوم ځانګړي ایدلوژی سرمشری (رهبر) یا د کوم ځا نګړي ا نګیزي څیښتن نه دي ،سربیره پرهغه د طا لبا نو دمذاکره کونکې غړی یا استاذی تر زیاته حده پوری دطالبانو دمرکزی مشرتابه چندان خیال نه ساتي اویا دهغه اراده نه تمثیلوی]**

## پرطا لبا نو با ندي دامریکي له خوا پرلګول شوی بندیزونو باندي بیا له سره کتنه

متحده ایالاتو منلی دي چي داګست میاشتي تر (27) کال (2020) پوري کوم چي پر طالبانو باندي بندیزونه لګولی وه دخپل پر مخکیني لګول شوی تحریمونو باندي بیا له سره کتني وکړي ، کوم چي دا بند یزونه دطا لبا نو دما لي شتمنی کنګل کول اودطا لبا نو په وړاندي دوسلو بند یز شا مل دي .

نوکله چي د ا فغا ن دولت اود طا لبا نو ترمینځ خبری اتری پیل شي ، متحده ایالات دامنیت شورا له نورو غړو اودا فغا نستا ن سره د بیلما تیک لید نې - کتنی پیل کړي ترڅو چي طا لبا ن د لګول شوی بند یزونو څخه وبا سي .

## دامریکي متحده ایالات ژمن دي چي دا فغا نستا ن پروړاندي له ګواښ یا له زورکارونی څخه ډډه وکړي

په هغه ماده کي چي د ملګرو ملتونود منشورله مخي ددوی مسولیتونه تایید شوی ، متحده ایالات اودهغه متحد ین به دا فغا نستا ن «د ځمکني بشپړتیا ، سیا سی خپلواکي پروړاندي دګوا ښ یا دزورکا روني یا دا فغا نستا ن په داخلی چارو کي له مداخلی څخه ډډه کوي .
دامریکي متحد ایالات د خبرو په جریان کي له نوی افغا نی حکومت څخه د «بیا رغوني لپا ره اقتصادي همکا ری به ترسره کړي» اودافغانستان په داخلي چاروکي به لاس نه وهی.
په پای کي متحده ایالات دملګروملتونو له منشورڅخه غواړي چي دغه تړون (دامریکی اود طا لبا نو ترمینځ ) تا یید او تصویب کړی

# د (18) کلونو اود ويني تويدو اودخزانی دلاسه ورکولو څخه وروسته ،متحده ایالاتوافغانستان بیرته دطالبانو په لاس کي ورکړ

بوش په غير قانونی ډول داکتوبر په میاشت کال (2001) کي د سپټا مبر د يولسمي نيټی د ترهګريزو ډ لو د حملو په غچ کي ( تحمیلی آزاد عملیا تونه) پر لاره واچول .د (18) کلونو څخه وروسته کوم چي ددی عملیاتونو په ترڅ کي په لسګونو زرو خلک مړه شوی اوله (دوه ) تریلینو دالرڅخه زيات پيسی په هدرلاړمګر دمتحده ایالاتوحکومت ا فغا نستا ن له سره طا لبا نو ته بیرته را ګرځوي .

**ويچي پراشا د** سیاسی خارجي کارپوه او ددری لویو وچو د څیړنـي د ا نستيوت لوی مد یر په طعنه آمیز یا په پیغورانه ډوله داسی وای : « متحده ایالات دطا لبا نو پر وړاندي جګړی ته لاړ اوبیا نژدي دوه لسیزي وروسته افغانستان بیرته طالبانو ته وسپا ره .»

په دی جګړه کي دافغانستان له طرفه کم ترکمه (سل زره) ملکی خلک اوتر (58000) افغا نی امنیتي سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړ اوهم د ا مريکي دځواکونو له جملي څخه (2400) سرتيری ووژل شو اونور (20000) امریکایی اوبهرنـي سرتیری ټپيان شوی دي .

د لس کلن لمړنی ارزونی او د پلټنی څخه وروسته نړیوال جنا یی محکمی (=ICC (international criminal court) څا رنوال آغلي **فا توبنسودا** (Fato Bensouda) یوداسي «منا سب اسا س» وموند چي باور يی درلود چي دمتحده ایالاتو نظامی مسولين اود (سی آی ای) داداری ځواکونو په افغا نستا ن کي د بشریت پر وړاندي جنګي جرمونه او جنایتونه په شمول دشکنجی ورکولو تر سره کړی دي .

د «آی سی سی » د محکمی چمبر یا االداره د( **فا تو بنسودا** ) سره توافق وکړمګر د رسمی تحقيقا تو څخه يی ډډه وکړه او هغه هم په دی سوظن اوشک سره يی وويل : چي آیا دا به د (اړوندوچارو واکوڅخه دهمکاری معنی خوندی کړي چي د «بريا لـي تحقيقاتو امکا نا ت » محدود کړي – **فا تو بنسودا** ددی حکم په اړه بيا له سر کتنه وکړه .

دما رچ په پنځمه نیټه کي د (آی سی سی ) اداره د بيا پر له سره کتنـي باندي کوم چي تایید کړي اويا په معکوس بڼی دمحکمی څخه دمخه له هغه څخه ترشاشی یادهغه دممنوعيت حکم صادر کړي موضوع تر څیړنـي لاندی ونيول .

***رابرت ما لیی*** (Robert Malley) دبین المللی بحران ریس لاره ښونکي یا خبریال مهدی حسن ( Mehdi Hasan = بریتا نیا وی لیکونکی - خبریال اود تلویزیون مجری ) ته وویل : چي ددی لامل کوم چي طابان له (معا ملي یا ددی توافقنامي د ځنو موادو څخه سرغړوی ) دا دی چي « دوه لسیزه وروسته متحده ایالات د نه منلو وړ جنګ ګټلو کي پا تي راغلي » . .

په هرصورت دواشنګټن پوست چا ودید ونکی یا انفجاری راپور ( دافغانستان دمقالاتو ترعنوان لاندي ) وښو د ل چي د ***بوش*** – ***اوبا ما*** - اود ***ترامپ*** اداره یا حکومتونه له یوسره روزمره دامریکي ددی روان جګړی په اړه دخپل بریالیتوبونو په مورد کي دروغ ویلی دی یا د خپل خلکو اذها ن منحرف کړی دي .

***لند ن*** پخپل مصا حبه کي د تا یمز په ورځپا نه کي تصریح کوي چي« ***ځلمی خلیل زاد*** » دافغانستان لپاره ددونالد ترامپ ځانګړي استا ذي چي دمتحده ایالاتو لپا ره د نا مشروع سولی تړون په اړه خبری کوي ، یواځی د موافقی ترپای ته رسید و پوري دپا تي کیدو غوښتونکي دي . ***لند ن*** لیکي چي (***خلیلزاد*** ) دترامپ په دوهمه پړاو اداره کي که چیری انتخابات وګټی دبهرنیو چارو وزیر په توګه د ټاکل کیدو لپاره هغه په نظر کي نیول شوی یعنی چی ***دترامپ*** له خوا هغه ته وعده ورکړ شوی دي .

که چیری دغه دامریکي اود طا لبا نو ترمینځ تړون دطالبانو له خوا دګواښ سره مخامخ شی نو ***ددونالد ترامپ*** ګواښ کړي چی امریکي به په هغه صورت کي دهغو په وړاند داسي یو «ځواکمن قوتونو سره لاړشی چي هغوی به هیڅکله نه وی لید لي » .

په ورته وخت کي ***ترامپ*** چی دهغه خورا اصلی اولوی هدف دهغه بیا له سره جمهوری ریاست ته اتنخاب یا ټا کنه دي کولي شی له طا لبا نو سره د (سولي معا ملی») په خوندی کولو کي دهغو څخه تضمین وغواړي .

------------------------------------ ***په درنا وي*** (2020-03-12)

.